# Pashto Drama and Khudai Khedmatgar Movement: A Critical and Research-Based Study

# پښتو ډرامه او خدائي خدمتګار تحريک يوه تحقيقي او تنقيدي مطالعه

Prof. Dr. Javed Iqbal*

**ABSTRACT**:

In creative literature, Drama is considered an effective genre for arousing the emotions and feelings of the public. Drama is not only an important means of entertainment but it has been used to educate people and create awareness. In this context, the Khudai Khedmatgar Movement played a pivotal role in promoting Pashto Drama. This article reports the multifaceted role of the Khudai Khedmatgar Movement in promoting Pashto Drama as a potent tool for education, awareness and ultimately for freedom from the British rule. This article shows how the Movement's ideas and principles such as non-violence and social justice were reflected in the themes and narratives of Pashto Drama. By examining the interplay between Pashto Drama and the Movement, this study has shed light on the crucial role of cultural expression in fostering political awareness and promoting social change.

**Keywords:** Drama, Khudai Khedmatgar Movement, Anjuman Islahe Afaghina, Non- violence, Freedom.

زمونږ د برصغير تاريخ ګواه دی چي پېرنګي استعمار په دې زمکه د کله نه پنجې ښخې کړې دي نو د برصغير اولس او په خصوصي توګه پښتون قوم د هغۀ د ناوړه روئيو، زور ظلم او زياتي ښکار شوی دی- پښتون چي فطرتاً يو ازاد او حريت پسند قوم دی، د پېرنګي خلاف ئې په هر محاذ د بغاوت علم پورته کړی دی او دغه جابر او غاصب نه د ازادۍ تر لاسه کولو د پاره ئې کوشش کړی دی- د هر پلېټ فارم نه ئې اواز پورته کړی دی او په هر محاذ د خپل مقصد تر لاسه کولو د پاره جنګدلی دی-

* Chairman, Department of Pashto, Islamia College Peshawar.

خدائي خدمتګار تحریک هم یو پلېټ فارم او یو محاذ دی چي پښتون قوم ترې د انګرېز سامراج خلاف اواز پورته کړی دی او د هغۀ د زور او ظلم، جبر او استبداد نه د نجات ترلاسه کولو هڅې ئې کړې دي- خو کۀ د خدائي خدمتګار تحریک په پس منظر او عملي هڅو غور وشي نو معلومه به شي چي د دې تحریک د سیورې لاندې پښتون قوم خپل جدوجهد د جنګ طاقت د استعمال په ځای د قلم او دانش په استعمال زیات کړی دی او ځکه د دغه تحریک شناخت د عدم تشدد **(Non Violence)** نظریه پاتې شوې ده- د دغه تحریک باني او روح روان خان عبدالغفار خان مسلسل محنت په دې کړی دی چي د پښتون غونډې جنګجو قوم د تشدد په ځای عدم تشدد ته مائل کړي او عدم تشدد د یو طاقت او قوت په حېث استعمال کړي او د فکر و دانش په استعمال توجه ورکړي. هم دغه وظیفه خان عبدالغفار خان او د هغۀ تحریک ترسره کړې ده ځکه دا تحریک په ابتداء کښې اصلاحي ؤ او وروستو ئې د یو مضبوط سیاسي تحریک شکل اختیار کړی دی- دا تحریک چي کله اصلاحي ؤ نو هم د دې تحریک غړو د قلم په اهمیت زور ورکړی دی او کله چي دا تحریک د اصلاح سره سره سیاسي شوی نو هم ئې د قلم په استعمال زیاته توجه کړې ده-

د خدائي خدمتګار تحریک لۀ خوا د قلم دغه جهاد په مختلفو شکلونو مخې ته راغلی دی- د دې تحریک مرستیالانو د صحافت مېدان کښې هم قلم چلولی دی او پېرنګي خلاف د شعوري بېدارۍ ذریعه ئې صحافت جوړه کړې ده دغه شان د دې تحریک مرستیالانو ادب هم د یو با اثره ذریعې په توګه استعمال کړی دی او په دې طریقه ئې د انګرېز سامراج خلاف د شعوري بېدارۍ پېغام خور کړی دی- په ادبي مېدان کښې خدائي خدمتګار تحریک د شاعرۍ په ذریعه هم خپل فکر او مقصد تر اولس پورې رسولی دی او ځینو نورو ادبي اصنافو په ذریعه هم چي یو ډېر اهم صنف په کښې ډرامه هم دی، دې نه مخکښې چي پښتو ډرامې ته د خدائي خدمتګار تحریک په بخښنو خبرې وشي، یوه لنډه تعارفي خاکه د خدائي خدمتګار تحریک په حقله هم پېش کول ضروري دي-

لکه چي وړاندې وئیلي شوي دي چي خدائي خدمتګار تحریک په ابتداء کښې یو اصلاحي تحریک ؤ نو ځکه مونږ د دغه تحریک پس منظر کښې اصلاحي هڅو ته هم لنډه شان اشاره کول غواړو کومې چي د انجمن اصلاح

الافاغنه د سیورې لاندې مخې ته راغلې دي – د دغه تحریک ابتداء د انجمن اصلاح الافاغنه په نوم د یو اصلاحي تحریک نه شوې ده چې پښتون اولس کښې د تعلیم عام کولو سره سره ئې علمي او ادبي کارنامې هم ترسره کړې دي- د انجمن اصلاح الافاغنه بنیاد په کال **1921**ء کښې د هم دغو اصلاحي هڅو په خاطر ایښودی شوی ؤ چې وضاحت ئې خان عبدالغفار خان په خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد کښې کړی دی- هغهٔ د دغه انجمن او یو ازاد سکول په حقله معلومات راکوي او د خپلو تعلیمي او اصلاحي هڅو د بنیاد، انجمن اصلاح الافاغنه او ازاد سکول په حقله داسې لیکي:

"مونږ په **1921**ء کال د دوستانو په امداد په اتمانزو کښې د ازاد سکول بنیاد کېښود چې په دې سکول کښې قاضي عطاءالله، میا احمد شاه، حاجي عبدالغفار خان، محمد عباس خان، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان، عبدالله شاه او خادم محمد اکبر زما ملګري وو- د مدرسې تر څنګه مونږ د پښتنو د غلطو رسمونو او رواجونو د اصلاح کولو، د تشدد نه منع کولو او په کښې د قامولۍ د مینې او محبت د پېدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړو-" [1]

د خان عبدالغفار خان (باچا خان) په دغه بیان کښې مونږ وکتل چې د انجمن اصلاح الافاغنه بنیاد د اصلاحي مقاصدو د پاره ایښې شوی ؤ او ورسره د ازاد سکول مقصد پښتون اولس د قلم په لور متوجه کول او تعلیم طرف ته مائل کول وو- د دغه انجمن د سیورې لاندې د نورو سکولونو او مدرسو قیام هم وجود کښې راغلو چې مقصد ئې هم دغه اصلاح او شعوري بېداري وه او بیا د هم دغو سکولونو او انجمن لهٔ خوا نېغ په نېغه ادبي خورونه هم شروع شوه چې په کښې د شاعرۍ او ډرامې صنف وده وموندوله- باچا خان د انجمن اصلاح الافاغنه او ازاد سکولونو سره د علم او ادب شاعرۍ او نظمونو د خورونې ذکر په دې الفاظو کړی دی:

"د انجمن په کوشش زمونږ د مدرسې په ملک کښې ډېر ښاخونه قائم شوي وو یو ډېر لوی شوق په پښتنو کښې د خپلو بچو د تعلیم پېدا شوی ؤ ما او خادم صاحب د هغو مائنه شروع کړه- مونږ به چې کله دا دورې کولې نو د ازاد سکول

هلکان به هم مونږ سره تلل، ولي او سعادت خان د ترنګزو به زمونږ دې جلسو کښې نظمونه وئیل- دوي ډېر خوش اوازه وو- ولي به ډېر ښکلې قرات وئیلو او د دې به په خلقو ډېر ښهٔ اثر کېدو او د خپلو بچو د هر قسمه تعلیم ورکولو سره به ئې شوق پېدا شو" [2]

دغه انجمن نهٔ یوازې ادب ته وده ورکړه بلکې په ادب کښې د مقصدیت په لور د ادیبانو توجه را اړولو کښې هم د دې انجمن لوی کردار دی- د دغه انجمن د سیورې لاندې د پښتو شاعر او ادیب خپل ادب د قومي، سیاسي او معاشرتي مسئلو ترجمان هم جوړ کړو او په خپله باچا خان هم د دغه رجحان وضاحت کړی دی او لیکلي ئې دي:

"زمونږ انجمن د پښتو د ترقۍ د پاره او د شاعرانو د خیالاتو بدلولو د پاره مشاعرو انتظام وکړو او د ښو ښو نظمونو او بېتونو د پاره ئې انعامونه مقرر کړل او په کال کښې یو ځل چې د مدرسې کالیزه جلسه به کېده ورسره د مشاعرې د پاره هم انتظام کېدو د دې په وجه په پښتو کښې یو عظیم الشان انقلاب راغی او د خال و خط په ځای د اتفاق وروروليۍ، قومي شعور دور شروع شو- په قوم او ملک کښې ئې انقلاب د پاره یوه نوې جذبه پېدا کړه او په ښځو نرو کښې ئې داسې جوش پېدا کړو چې د جلسې په ورځ به د جلسې په ځای کښې ځای موندل ګران شو او د ملک د هرې علاقې او تپې کهٔ خان ؤ که غریب ؤ د انجمن په جلسه کښې به ئې خپل شرکت فرض ګڼلو-" [3]

د انجمن اصلاح الافاغنه د سیورې لاندې پښتو شعر وادب څومره ترقي کړې ده او بیا په خصوصي توګه پښتو ډرامې څومره ارتقاء موندلې ده؟ د دغه تفصیل نه وړاندې د انجمن اصلاح الافاغنه نه د خدائي خدمتګار تحریک په لور د ارتقاء وضاحت هم ضروري دی- دې لړ کښې هم باچا خان زمونږ لارښودنه کړې ده او په دسمبر **1929**ء کښې په لاهور کښې د کانګرس د یوې جلسې د بیان نه پس ئې د خدائي خدمتګارۍ په حقله لیکلي دي:

"مونږ چې د لاهور نه واپس شو نو په اتمانزو کښې مو جلسه وکړه- زهٔ په جلسه کښې راپاڅېدم او خلقو ته مې اووې چې تاسو خو اودهٔ ئې او سړي څهٔ کوئ

چي د هندوانو ښځې هم رابېدارې شوې او هغوي سره سره یو ځای د ملک د ازادۍ د پاره ملا تړلې ده او جدوجهد کوي- تاسو لږ دې نمر ختاڼه ته وګورئ څومره لوی سېلاب راروان دی او سېلابونه همېشه اوده قومونه وړي پاڅئ ویښ شئ او ملا وتړئ. ... جلسه په ډېره جوش وخروش ختمه شوه او په پښتنو زما تقریر ډېر ښه اثر وشو- د شپې زمونږ د کلي محمد اکبر خان، سرفراز خان، حجاب ګل او یو څو نور هلکان زما لیدو د پاره زمونږ حجرې ته راغلل او ما سره ئې د یو جماعت د جوړولو مشوره وکړه ما هغوي په ښه شان پوهه کړل چي دا لوبې ټوکې نه دي دا ډېر مشکل کار دی د دې په لار کښې ډېر ازغي دي په تاسو به زما د تقریر ډېر اثر شوی وي خو لاړ شئ په دې معامله ښه غور او فکر وکړئ هغوي مې رخصت کړل. ... بله شپه بیا راغلل او راته ئې اووئیل چي مونږ په دې کار ډېر غور وکړو مونږ د قوم او ملک د خدمت د پاره د هر قسم تکلیفونو، مصیبتونو او قربانیو نه تیار یو- زما دا خیال ؤ چي په دې پښتون کښې د خدمت خیال نشته په دې جماعت مونږ یو داسې نوم کېږدو چي د پښتنو په دماغ کښې د خدای د پاره د خدمت خیال پېدا شي قسم قسم نومونه پېش شول خو زمونږ خوښ نه شول د شپې زما په زړه کښې د خدائي خدمتګار نوم راغی چي سبا له دوي راغلل نو ما ورته دا نوم وړاندې کړو د دوي هم خوښ شو او دعا د خېر پرې وشوه-"[4]

د باچا خان دغه اوږد بیان نه دا اندازه وشوه چي څنګه د انجمن اصلاح الافاغنه مقصد، اصلاح او اولسي خدمت ؤ هم دغسې د خدائي خدمتګار تحریک مقصد هم انساني فلاح او خدمت ؤ او د هم دغه اصلاح، فلاح او خدمت د پاره باچا خان د انجمن اصلاح الافاغنه او بیا د خدائي خدمتګار تحریک د سیورې لاندې د پښتو ژبې او ادب خدمت هم وکړو چي د مختلفو ادبي اصنافو په شکل کښې زمونږ د ادبي تاریخ برخه جوړه شوه- په دغو ادبي اصنافو کښې د پښتو ډرامې په اغاز او ارتقاء تفصیل سره بحث کوو-

پښتو ډرامه او خدائي خدمتګار تحریک:

دلته د خدائي خدمتګار تحریک نه زمونږ مقصد د دغه تحریک پس منظر هم دی چي په کښې انجمن اصلاح الافاغنه هم شامل دی بلکې د دغه تحریک د بنیادي. ... مو اغاز د انجمن اصلاح الافاغنه په شکل شوی دی او د

تحریک په شکل ئې وده موندلې ده- ځکه مونږ چې کله د پښتو ډرامې او خدائي خدمتګار په تعلق خبرې کوو نو ابتداء به ئې د انجمن اصلاح الافاغنه د سیورې لاندې سټېج ډرامو نه کوو-

زمونږ محققینو د پښتو ډرامې اغاز د انجمن اصلاح الافاغنه د سیورې لاندې سټېج شوې د عبدالاکبر خان اکبر د ډرامې درې یتیمان نه کړی دی- تر څو چې د پښتو د وړومبنۍ ډرامې تعلق دی نو زمونږ تقریباً ټول محققین په دې خبره متفق دي چې وړومبنۍ ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر هم دغه درې یتیمان ده چې د انجمن اصلاح الافاغنه ورکړه ده- خو درې یتیمان د عبدالاکبر خان ډرامه نۀ ده بلکې ډرامه د تربور په نوم سټېج شوې ده- دې لړ کښې د ډاکټر حنیف خلیل رائې د دغو ټولو محققینو نه بدله ده هغه د پښتو وړومبنۍ درامه درې یتیمان د پښتو ډرامه نۀ ګڼي- البته د پښتو کومه وړومبنۍ ډرامه چې ذکر کوي هغه هم د انجمن اصلاح الافاغنه د سیورې لاندې سټېج شوې ده- حنیف خلیل د عبدالخالق خلیق د یو بیان حواله ورکوي، کوم کښې چې د پښتو د دوو ډرامو ذکر شوی دی- دغه بیان مونږ د خلیق صاحب کتاب "د ازادۍ جنګ" نه پېش کوو او بیا پرې د ډاکټر حنیف خلیل تبصره هم وړاندې کوو چې د پښتو د وړومبنۍ ډرامې دا تنازعه هم مخې ته راشي او ورسره د انجمن اصلاح الافاغنه د ډرامې په لړ کښې د خدماتو یادونه هم وشي- خلیق صاحب لیکلي دي: چې!

"په اپرېل **1927**ء کښې د انجمن اصلاح الافاغنه او اتمانزو یوه ډېره لویه جلسه وشوه هسې خو هر کال به جلسه کېده خو د دې جلسې څو خصوصیتونه وو یو خو په کښې د شپې یوه درنه مشاعره وشوه چې طرح ئې دا وه "کۀ زلمي چرې په خپل وطن قربان شي او بله د ازاد سکول طلباؤ یوه ډرامه په سټېج وښودله سبا له د عبدالاکبر خان اکبر لیکلی شوې یوه ډرامه سټېج شوه چې خلقو ډېره خوښه کړه په دې ډرامه کښې د حکومت په نظام یو داسې تنقید شوی ؤ چې د هر سړي په زړۀ کښې د انګرېزي حکومت د نظام نه نفرت پېدا شو-" [5]

د دغو دوو ډرامو نه علاوه زلمي هېواد مل د پښتو وړومبۍ ډرامه د امیر حمزه شینواري "زامیندار" یاده کړې ده، حنیف خلیل د هېواد مل دغه رائې سره هم اختلاف کړی دی او د پښتو د وړومبۍ ډرامې په حقله د خلیق د دغه

بيان تجزيه ئې کړې ده- ورسره د زلمي هېواد مل يادونه ئې هم کړې ده او ليکلې ئې دي: چي:

" مرحوم عبدالخالق خلیق کے بیان سے واضح ہوتا ہے کہ اس جلسے کے دوران میں دوڈرامے سٹیج ہوئے تھے؛ایک آزاد سکول کے طلباء نے سٹیج کیا تھا جس کا لکھنے والا معلوم نہیں اور نہ ڈرامے کا نام معلوم ہے-دوسرا عبدالاکبر خان اکبر کا ڈرامہ تھا جس کا نام دیگر محققین نے "دری یتمیان" بتایا ہے-

رہی بات امیر حمزہ شنواری کے ڈرامہ "زمیندار" کی تو اس کے بارے میں امیر حمزہ شنواری نے خود لکھا ہے کہ!

"میں نے 1935ء میں پہلی دفعہ ایک ڈرامہ "زمیندار" لکھا-"

واضح ہوا کہ پشتو کا پہلا ڈرامہ نہ تو عبدالاکبر خان اکبر کا ہے اور نہ امیر حمزہ شنواری کا- پشتو کا پہلا ڈرامہ عبدالاکبر خان اکبر کے ڈرامے سے ایک دن پہلے ازاد سکول کے طلباء نے اپریل 1927ء میں سٹیج کیا تھا جس کا لکھنے والا معلوم نہیں"-[6]

د دغو حوالو نه مونږ دې نتيجې ته رارسو چي د عبدالاکبر خان اکبر د ډرامې تربور نه وړاندې هم د پښتو يوه ډرامه وجود لري خو دا خبره ښېخي صفا ده چي دغه دواړه ډرامې د انجمن اصلاح الافاغنه پېداوار دی- کله چي مونږ د عبدالاکبر خان اکبر خپل کتاب "د برصغير پاک وهند په ازادۍ کښې د پښتو برخه" ولولو نو د ځينو نورو تضاداتو سره مخا کېږو وړومبی تضاد خو دا مخې ته راځي چي د خليق بيان د اپرېل **1927**ء د جلسې دی او په دغه جلسه کښې د پښتو د وړومبنو ډرامو ذکر شوی دی خو عبدالاکبر خان اکبر د کال **1926**ء د کليزې جلسې حال ليکي او په کښې د خپلې يوې ډرامې "تربور" د ستېج کېدو ذکر کوي او ورسره د خپلو دوو نورو ډرامو ذکر کوي هغه ليکي:

"د کال ۲۶ په کليزه جلسه کښې يوه عظيم الشانه مشاعره د شپې اوشوه او د ورځې زما ليکلې تربور ډرامه د مدرسې هلکانو په ستېج اوښودله په دې کښې حضرت ګل زميندار- عبدالولي خان د يتيم- احمد سعادت خانو عبدالکريم وغېره هلکانو حصه اخستې وه- د يتيم غريب پارټ دومره مؤثر ؤ چي ډېرو خلقو د جلسې د مينځ نه رامنډه کړه روپۍ ئې يتيم لره ورکولې- يو سړی د تربور ظلم نه دومره متاثره شوی ؤ- چي ټوپک ئې ډک کړو او نزدې وو چي ډز ئې کړی وی- ولې ناستو خلقو پوهه کړو

دا ډرامه او دوه نورې چي ۳۰ء کښې قيدېدم نو څۀ نور ضروري کاغذونه سره ما يو نوکر ته اووئيل چي دا چرته سنبال کړه هغه بې وقوف په بوجۍ کښې په

زمکه کښې خخ کړل هغه ټول وینو او زمکې خوړلي او وراستهٔ کړي وو- دغه حال زما د بل تصنیف ډرامه تهذیب جدید، تعلیم جدید هم دې سره برباد شوه-" [7]

او بیا چې د کال 1927ء د کلیزې حال بیانوي نو په کښې د خپلې ډرامې "درې یتیمان" ذکر نهٔ کوي بلکې د خپلې یوې بلې ډرامې "تهذیب جدید او تعلیم جدید" ذکر کوي هغه دې لړ کښې داسې لیکي:

"د ورځې د ازاد سکول هلکانو زما لیکلې ډرامه تهذیب جدید او تعلیم جدید په ستېج اوښودله-

ډرامه تهذیب جدید، تعلیم جدید کښې عبدالغني خان د وکیل پارټ ادا کړې ؤ عبدالولي خان د یتیم او قاري احمد د مزدور- دغسې د سکول نورو هلکانو په کورس وغیره کښې حصې اخستې وې-

دا ډرامه دومره مؤثره وه چې په دغو ورځو نواب سر صاحبزاده عبدالقیوم- سعدالدین خان کمشنر ډاکټر خان صاحب- د خان بهادر سعدالله خان د عمرزو میلمانهٔ وو- هغوي ته چا د دې ډرامې ذکر اوکړو هغوي په دغه ور ځ مازیګر اتمانزو ته راغلل نو باچا خان ته ئې اووئیل چې مونږ د دې ډرامې ډېر زیات صفت اورېدلی ؤ- خبر نهٔ وو ګني راغلي به وو- باچا خان اووئیل کهٔ ستاسو دا شوق وي نو مونږ به ئې بیا اوکړو هغوي ډېر خوشحاله شو ما نه ئې تپوس اوکړو چې اوس به ئې انتظام اوشي ما ورته اووئیل چې په پردو لګولو کښې به وخت لګي هسې د ریهرسل یا بې پردې ډائیلاګ (مکالمه) به اوشي هغوي اووئیل هر څهٔ چې کېدی شي د دوي خواهش دی هلکان مو زر زر جمع کړل سامان مو تیار کړو چې څهٔ وخت عبدالولي خان خان د یتیم کردار ادا کوو او عبدالغني خان او عبدالکریم په موجوده تعلیم تنقید کوو، چې موجوده تعلیم پېرنګیانو د خپل ځان د پاره د حاجتمندو ملایانو پېدا کولو د پاره جاري کړی دی او دې باره کښې دلسوزه اشعار وئیلې کېدی شو-" [8]

عبدالاکبر خان د خپلې ډرامې درې یتیمان تذکره د انجمن اصلاح الافاغنه د کال 1928ء د کلیزې جلسې په بیان کښې کړی دی او لیکلي ئې دي چې: " د کال د انجمن په سالانه جلسه کښې د پخوا په شان د انعامي مشاعرې او

ډرامې انتظام شوی ؤ دا ډرامه یتیم ما (عبدالاکبر) لیکلې ستېج کړې وه میر مشاعره هم زۀ ووم د جلسې صدر حاجي عبدالغفار خان ؤ-" [9]

د هغو تضاداتو په حقله مونږ په وثوق سره خو څۀ نۀ شو وئیلی البته دومره قدر ضرور وئیلی شو چي د عبدالاکبر خان اکبر په دغه ذکر شوي کتاب کښې ځینې نور معلومات هم د تضاداتو ښکار دي ځکه د خلیق او نورو محققینو بیانات د زیات اعتماد او باور وړ ښکاري، خو دلته زمونږ اصلي د دغو تضاداتو څېړنه نۀ ده زمونږ بنیادي موضوع د انجمن اصلاح الافاغنه او خدائي خدمتګار تحریک پښتو ډرامې ته د بخښنو جاج اخستل دي او دا معلومه ده چي دغه ډرامې ټولې د انجمن د سیورې لاندې ستېج شوې دي د هم دغه تحریک بخښنې دي-

د دغه تحریک په ادبي خدماتو او خصوصاً د پښتو ډرامې د پاره د دې تحریک د خدماتو تذکره احمد چي په احمد کاکا مشهور دی هم په خپل کتاب خدائي خدمتګار تحریک وړومبی ټوک کښې ځای په ځای کړې ده هغه د عبدالاکبر خان اکبر د خدماتو تذکره په دې توګه کوي:

"په دغه زمانه کښې چي به د سکول سالانه جلسې کېدلې د دې د پاره به عبدالاکبر خان اکبر ډرامې لیکلې دا ډرامې به داسې وې او په قام به داسې لګېدلې لکه چي په څُوږ ځای باندې د ملهمو پټی. لګوي هر کال په جلسه کښې نوې ډرامه وه دا ډرامه به د سکول هلکانو کوله. ... دا د دې ډرامو نتېجه وه چي د پېړو هغه اودۀ قام ئې دومره لږ وخت کښې رابېدار کړو. ... نو په دې وجه ډرامو ډېر لوی کار کړی دی او په کار دي چي قام د دوي خدمت هېر نۀ کړي-" [10]

د 21 اپرېل په واقعاتو کښې احمد کاکا د مالئې د حصول په موضوع د یوې ډرامې ذکر کوي چي د دې تحریک ورکړه احمد کاکا لیکي:

"دغسې د ډرامې هره حصه درد ناکه او درد انګېزه وه او د پېرنګیانو د حکومت هغه وحشي توب او دردندګي ترې څرګندېدله دغسې بله حصه د سېلاب د پاره نغاره چي وهي نغارچي چي په زوره اواز کوي چي خلقه سېلاب راغی تښتئ او پښې اوباسئ دا هغه سېلاب طرف ته اشاره ده چي هغه کم ډېر

لوی سېلاب راغلی ؤ او حکومت نغارې خلقو ته کولې چې سیلۍ او اوبۀ داسې راروانې دي چې روغ روغ کلي ئې په مخه کړو او فصل خو ئې ټول د سېلمې تباه کړی ؤ. ... دا ډرامه ډېره دردناکه وه او قام ته هر څۀ څرګند شو- ډرامه او جلسه په ډېره کامیابۍ سره ختمه شوه-" 11

د دغه ابتدائي پس منظر په رڼا کښې زمونږ لیکوالو او څېړنکیو د پښتو ډرامې په سفر او ارتقاء چې کوم لیکونه کړي دي هغې کښې ئې د انجمن اصلاح الافاغنه او خدائي خدمتګارو سیورې لاندې ستېج شوې ډرامې هم ذکر کړې دي دغو لیکوالو کښې ځینو ډرامو په ادوارو او تاریخونو کښې تېروتنې هم کړې- (راقم الحروف او ډاکټر سهېل انشاء د درد او خدائي خدمتګار ډرامو د مختلفو حوالو په مرسته تصیحح او څۀ نوې خبرې رامخې ته کړې دي دغه دواړه مقالې د تکتو مجلې په اوومه او اتمه ګڼه کښې چاپ دي) خو د دې بحث موضوع د خدائي خدمتګار تحریک ډرامې ته بخښنې دي ځکه مونږ د دغو تېروتنو باوجود د دغو محققینو د تحقیق نه استفاده کوو او د پروفېسر افضل رضا د تحقیق نه یوه حواله وړاندې کوو- افضل رضا د دغه تحریک د سیورې لاندې د ابتدائي ډرامو تذکره داسې کوي:

"د پښتو وړومبۍ طبعزاد ډرامه "درې یتیمان" د اتمانزو په هائي سکول کښې د سکول د کلیزې جلسې په موقعه سکولیانو پېش کړې وه- د ډرامه په ۱۹۲۷ء کښې ښاغلي عبدالاکبر خان اکبر لیکلې وه- په دغه ډرامه کښې ښاغلي لیکوال په اصلاحي رنګ کښې د معاشرې د زوروَرو خلقو زور زیاتي په ګوته کړي وو- د ۱۹۲۸ء نه تر ۱۹۳۰ء پورې هم دغه ښاغلي لیکوال د دغه سکول په کلیزو جلسو کښې نورې وړې اصلاحي ډرامې لکه "تهذیب جدید" "تعلیم جدید" وغېره پېش کړې، چه د پښتو د طبع زادو ډرامو د ابتدائي دور کامیابې تجربې یاد ېږي-" 12

افضل رضا د دغو ابتدائي ډرامو نه علاوه د ځینو نورو ډرامو ذکر هم کوي او د انګرېز سامراج د ظلمونو خلاف لیکلې ډرامې رامخې ته کوي- هغه وړاندې لیکي:" د انګرېز استعمار چیانو په خلاف چې کومه باقاعده لویه ډرامه

ستېج شوه- هغه وه د امیر نواز خان جلیا لیکلې درامه "درد" چهعې قومي کار کوونکو پېش کړې وه- انګریزي حکومت چي خبر شو نو د دې پېش کوونکو ته ئې درنې سزاګانې ورکړې- د دغه ډرامې په کار کوونکو کښې د بابړې احمد، فصیح باچا او عبدالحنان بجلي دوي نامې د ذکر وړ دي- دا ډرامه په شلم اپرېل ۱۹۳۰ء کښې ستېج کړی شوې وه- هم دغه کال د جولائي په میاشت کښې عبدالخالق خلیق خدایي خدمتګار نومې ډرامه په زیارت کاکا صاحب کښې پېش کړه- چه عبدالمالک په کښې هیرو ؤ- د ۱۹۳۰ء خواؤ شا میا عبدالرزاق اسلامیه کالج پېښور کښې د فقیر زبرګ قیصه د جنت مانړۍ ډرامې په نوم ستېج کړه- د دې ډرامې مرکزي او بنیادی خیال د ټګانو پیرانو سره تعلق لري- هم دغه دور کښې د میا عبدالرزاق بله ډرامه د خانک جارو د اسلامیه کالج پېښور په خېبر یونین هال کښې پېش کړی شوه-" [13]

د درې یتیمان په حقله د ډاکټر محمد اعظم اعظم رائې هم هغه ده کومه چي د نورو محققینو ده هغه لیکي:

"په پښتو کښې ډرامه هم د ناول او افسانې په شان په روانه صدۍ کښې زېږدلې ده او تر اوسه چي کوم تحقیق شوی دی هغې لۀ مخه د ښاغلي عبدالاکبر خان اکبر درې یتیمان د پښتو اولنۍ ډرامائي زیار ګڼلی شي- دا ډرامه د اتمانزو د آزاد سکول د کلیزې په دستوره کښې په کال ۱۹۳۷ء کښې ستېج کړی شوه- د دې ډرامې رنګ اصلاحي ؤ او په دې کښې په پښتني معاشره کښې د خانانو د زور زیاتي او د هغه وخت د ځېنو نام نهاده مذهبي عالمانو د ریاکارۍ او دوه پړیقې روئې خلاف په ډېر ساده خو رښتیني او مؤثر انداز کښې آواز پورته شوی ؤ- درې یتیمان هم دهغه اصلاحي تعمیري او انقلابي ادب د زنځیر یوه کړۍ ده کوم چي د نوو سیاسي او اولسي تحریکونو په پس منظر کښې د شلمې صدۍ د شروع کېدو سره په پښتونخوا کښې ساه اخستې وه-" [14]

ډاکټر محمد اعظم اعظم د درې یتیمان نه علاوه د اهمې ډرامې درد په حقله هم معلومات راکوي او لیکي:" د ښاغلي اکبر په "درې یتیمان" پسې چي کومې ډرامې ذکر راځي هغه هم د هشنغر د سیمې د اوسیدونکي ښاغلي امیر

نواز جلیا "درد" ده. دا ډرامه په کال ۱۹۳۰ء کښې لیکلی شوې وه او هم په دغه ورځو کښې سټېج کړی شوه-

د دې ډرامې موضوع د هغه وخت د انګریزي استعمار د ظلم زور خلاف د ذېلي اولس د پارېدلو جذباتو نه تاوېږي-دا ډرامه په بابړه (چارسده) کښې سټېج کړی شوه او په اداکارانو کښې ئې خدائي خدمتګار تحریک نوموړي غړي شامل وو-

په درد کښې یوه خوا خوار اولس د ازرۍ د ژوند دړ دوونکې نقشه وړاندې شوې وه او بل خوا د انګرېز سرکار د بې رحمه او بې ضمیره حاکمانو په رویه باندې بې باکه تنقید شوی ؤ- لۀ دغې کبله د ډرامې د لیکونکي سره سره د ډرامې کارکوونکي او پېش کوونکي هم په جېل بندي کړی شول او مقدمې پرې او چلولی شوې-" [15]

د "درد" ډرامې ذکر وړاندې د افضل رضا په حواله شوی دی اوس دا ډرامه د باچا خان ریسرچ سنټر پېښور پښتونخوا لۀ خوا چاپ شوې هم ده چې په ابتدائي خبرې کښې ئې ډاکټر فضل رحیم مروت په مجموعي توګه د خدائي خدمتګار تحریک په ادبي خدماتو هم تبصره کړې ده- ډاکتر فضل رحیم مروت د خدائي خدمتګار تحریک ادبي خدماتو یادونه داسې کوي:

"هسې خو خدائي خدمتګار تحریک د پښتنو /افغانانو مذهبي، سماجي، اقتصادي او معاشي څانګو کښې خپل پوره او کوټلی کردار ادا کړی دی او په داسې حالاتو کښې چې د نوي ترقي پسند سوچ او قامي شعور رامنځ ته کولو تصور هم چا نۀ شو کولی او د انګرېزانو د ظلمو جبر دروند سام د هند په نیمه وچه هر لوري ته خور ؤ نو په داسې ناوړه حالاتو کښې د دې تحریک ملګرو د عبدالغفار خان (باچا خان) په مشرۍ او د نورو ملګرو په مرسته او ملاتړ کښې د اولسي بېدارۍ د پاره ډېر ګټور کار او زیار کړی دی- دغه ټول جدوجهد څۀ کم وزیات په سلو کلونو خور دی چې هغوي د خپل تحریک د کامیابۍ او د هندوستان د ازادۍ د پاره کومې هلې ځلې کولې نو په هغې کښې د نورو طریقو او ذریعو نه یوه د شعر و ادب لۀ لارې په قام کښې سیاسي او سماجي شعور رابېدارولو ته وده ورکول هم شامل وو- کۀ مونږ وګورو نو د دغه تحریک په

عملي توګه پرمختګ کښې د شاعرانو اديبانو ډېر لوی لاس دی چي هغوي په خپلو سالانه جلسو کښې نۀ يواځې د کليزو مشاعرو بندوبست کولو بلکې هر کال به ئې د ډرامې په ذريعه هم اولس کښې د بېدارۍ او دې جذبې را لړزولې او را ويښولې دغه دور ډېر ښۀ ډرامه نګار هم پېدا کړي دي لکه عبدالاکبر خان اکبر، امير نواز خان جليا، عبدالخالق خليق، فضل کريم د پبو او داسې نور- ” [16]

د امير نواز جليا د درد ډرامې نه علاوه خدائي خدمتګار هم يوه اهمه ډرامه ده چي د خدائي خدمتګار تحريک بخښنه ده د خدائي خدمتګار په نوم يوه ډرامه عبدالخالق خليق ليکلې ده چي تر اوسه ناياب ده او يوه ډرامه د فضل کريم په نوم چاپ ده چي په اصل کښې ئې فضل کريم صرف پبليشر دی او د ډرامې ليکوال معلوم نۀ دی- دې نه علاوه په دغه يوه ډرامه عبدالاکبر خان اکبر هم ليکلې ده- دغه پس منظر ډاکټر خالد خان خټک داسې بيانوي:

“هم په دغه نوم يوه ډرامه عبدالاکبر خان اکبر هم ليکلې وه چي په **1938**ء کښې شائع شوه خو د هغې قصه او کردارونه بدل دي د خدائي خدمتګار د نوم يوه بله ډرامه عبدالخالق خليق سره هم منسوبه ده خو تر اوسه ئې چا د موجودګۍ خبر نۀ دی خور کړی هيله لرو چي لټون به ئې جاري وي او کله نه کله به منظر عام ته راشي-“ [17]

د خدائي خدمتګار تحريک د سيورې لاندې چي پښتو ډرامې کومه وده ومونده په هغې کښې د پورته ذکر شوو ډرامو نه علاوه د عبدالخالق خليق د درېو ډرامو اهميت ډېر زيات دی دغو ډرامو کښې يوه “خدائي خدمتګار” چي لا ناياب ده او دوه نورې ډرامې ئې “شهيده سکينه” او “خوږ ژوندون” دي چي په کتابي شکل کښې چاپ هم دي- د شهده سکينه په حقله ډاکټر اعظم اعظم ليکي:“ د اصلاحي او نيم سياسي ډرامو په دغه دوره کښې چي په کتابي شکل کښې کومه اولنۍ ادبي ډرامه مخې له راغله هغه د ښاغلي عبدالخالق خليق شهيده سکينه وه- د دې بنيادي خيال د يو داسې پښتنې مېرمن د کردار نه چاپيرېږي ځوک چي د پښتو او رواج د بنديزونو او قاعدو او د يو جاهل او بې ضميره وررو ناکړدو هم د خپل پلار ميراث نه لاس په سر کړه او هم ئې د ځښتن د

کور نه بې کوره کړه-" [18]

خوږ ژوندون په حقله د خليق خپل بيان داسې دی:

"دا ډرامه اول په پښتون رساله کښې په قسطونو او بيا په کال ۱۹۳۹ء کښې په کتابي شکل کښې چاپ شوه- په خوږ ژوندون کښې د اولسي ژوند د راتلونکي وخت يوه تصوريه په تمثيلي انداز کښې وړاندې شوې ده- کله چې به دنيا بدله وي او د ژوند موجوده نقشه به بيخي په بد رنګ وي او په دغه تصوراتي انسانځی رياست (utopia) کښې به د بنيادمو کردار هم د مينې محبت او اخلاص په رنګونو کښې خوشت وي-" [19]

د خدائي خدمتګار تحريک د غړو لۀ خوا د ډرامې دغه سفر وروستو هم جاري پاتې شو- تر دې چې عبدالاکبر خان اکبر د پاکستان د ازادۍ نه پس هم دغه موضوعات په خپله ډرامه کښې بيانول افضل رضا دې لړ کښې ليکلي دي چې:

"په کال ۱۹۴۵ء کښې عبدالاکبر خان اکبر جونګړه نومې ډرامه وليکله- چې اوس هم په کتابي شکل کښې موجوده ده- دا ډرامه د پوليټکل کانفرنس په موقعه شاهي باغ کښې سټيج شوې ده- دا د انګريزي استعمار خلاف آواز او د آزادۍ ګټلو د پاره يو ستر غږ دی- په فني لحاظ دا ډرامه ډېره جامع او مکمله ده- حقه دا ده چې کوم کسان چې د پښتو ژبې د تنګسيا او لبنۀ والي شکايت کوي پکار دي چې هغوي د عبدالاکبر خان صاحب کلام او ډرامې اوګوري- کۀ شېکسپيئر او کاليداس د انګريزۍ او سنسکرت د ډرامو بابا ادم ګڼلی شي- نو پښتو ژبه هم فخر کوي- چې د عبدالاکبر خان غوندې ډرامه نويس ورته په ګوتو راغی ۱ په ۱۹۵۷ء کښې د اکبر صېب ډرامه کاروان روان دی د نيشنل کانفرنس په موقع شاهي باغ پېښور کښې سټيج شوه- په مئ ۱۹۴۶ء کښې د خېبر آواز د پښتو ادبي ټولنې لۀ خوا تمثيل شوه- دا د انګرېزۍ نه ترجمه شوې وه- دا ښاغلي دهقان او ښاغلي نصر ترجمه کړې وه-" [20]

په **1957**ء کښې د عبدالاکبر خان اکبر ډرامه کاروان روان شو کښې د پښتو نومړو اديباتو هم برخه اخستې وه د همېش خليل د وېنا مطابق اجمل خټک د دې ډرامې ډائرېکټر ؤ او په خپله همېش خليل په کښې د يو صحافي کردار ادا

کړی دی. د پښتو ډرامې په دغه ابتداء او ارتقاء چې نظر اچوؤ نو ډېر په واضحه توګه راته د خدائي خدمتګار تحریک بخښنې مخې ته راځي بلکې د خدائي خدمتګار تحریک لۀ خوا د ډرامې په مېدان کښې خدمات سنګ میل حېثیت لري- ځکه چې په حقیقت کښې د طبعزاد ډرامې ابتداء هم دغه تحریک کړې ده او پښتو ډرامې ته وده هم دغه تحریک ورکړې ده- مونږ کۀ د دغو ډرامو په فني او فکرې اړخونو نظر اچوؤ نو دا خبره جوتېږي چې د ډرامې په مېدان کښې د وړومبیو قدمونو په وجه دې ډرامو کښې ځینې خامۍ او کمزورۍ هم په نظر راتلی شي خو د دغو خامو او کمزورو وجه به دا وي چې په دغه دور کښې یو خوا خو پښتو کښې د ډرامې په فن کوم باقاعده لیکونه نۀ وو او بل خوا د ډرامه لیکونکیو په وړاندې د فن نه زیات مقصد مخې ته ؤ د دغه دور د ډرامو د موضوعاتو نه اندازه کېږي چې د دغو ډرامو د لیکلو بنیادي مقصد د پښتو سیاسي او شعوري بېداري وه او هم دغه د بېدارۍ درس ورکولو د پاره ډرامه د یوې مؤثرې وسیلې او ذریعې په توګه په کار راوستی شوې وه- ځکه مونږ ګورو چې د دغه دور د ډرامو موضوعات عموماً د انګرېز سامراج زور، ظلم او ناانصافي راوړاندې کول، د انګرېز ظلم نه نجات تر لاسه کول، د ازادۍ حصول او د پښتون اولس مسئلې رامخې ته کول وو- پښتانۀ لیکونکي او ډرامه نګار په دغه مقصد کښې هم په صحیح معنو کښې کامیاب شوي دي او دغه شان دا هم ثابته شوه چې خدائي خدمتګار تحریک د پښتو ډرامې په ابتداء او ارتقاء کښې هغه بنیادي کردار لوبولی دی چې د پښتو د ادبي او سیاسي تاریخ یوه نۀ هېرېدونکې برخه جوړه شوه-

# حوالې

[1] عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد، کابل دولتي مطبعه، 1363هـ/ 1993ء، ص: 183-184
[2] هم دغه اثر، ص: 312
[3] هم دغه اثر، ص: 335
[4] هم دغه اثر، ص: 345 تا356
[5] خليق، عبدالخالق، د ازدۍ جنګ، اداره اشاعت سرحد پېښور، 1972ء، ص: 42
[6] خليل، حنيف، پشتو زبان و ادب کی تاريخ، يونيورسټی پبليشرز پشاور، اګست 2009ء، ص: 308 تا 300
[7] اکبر، عبد الاکبر خان، د برصغير پاک وهند په آزادۍ کښې د پښتو برخه، يونيورسټي پبليشرز پېښور، اګست 2009ء، ص:51 تا 52
[8] هم دغه اثر، ص: 53 تا 54
[9] هم دغه اثر، ص: 64
[10] احمد، خدائي خدمتګار تحريک (وړومبی ټوک)، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، جنوري 1991ء، ص: 178 تا 180
[11] هم دغه اثر، ص: 192 تا 193
[12] رضا، افضل، ډرامه، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، دوئم چاپ 1995ء ص: 48
[13] هم دغه اثر، ص: 50
[14] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، 1993ء، ص: 401
[15] هم دغه اثر، ص: 408
[16] مروت، فضل رحيم، ډاکټر، درد د امير نواز جليا، مشموله درد، باچا خان ريسرچ سنټر پېښور پښتونخوا، 2012ء، ص: 6 تا 7
[17] خټک، خالد خان، ډاکټر، دا ډرامه خدائي خدمتګار، مشموله، خدائي خدمتګار (د فضل کريم)، باچا خان ريسرچ سنټر پېښور پښتونخوا، جون، خدائي خدمتګار (د فضل کريم)، باچا خان ريسرچ سنټر پېښور پښتونخوا، جون 2012ء، ص: 6 تا 7
[18] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، ص: 408 تا 409
[19] هم دغه اثر، ص: 409
[20] رضا، افضل، ډرامه، ص: 59 تا 60